
اختلاف رحمت دی
ډله بازي حرامه ده
تقرير: مولانا مفتي محمد رفيع عثماني
ژباړه: قاري محمد نسيم نسيم

اختلاف رحمت دی

ډله بازي حرامه ده

تقرير: مولانا مفتي محمد رفيع عثماني حفظه الله

ژباړه: قاري محمد نسيم نسيم

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: **اختلاف رحمت دی، ډله بازي حرامه ده**

مؤلف: مولانا مفتي محمد رفیع عثماني مد ظله

ژباړه: قاري محمد نسیم نسیم

د چاپ کال: قمري، ۱۴۳۴، ربیع الاول

اړیکي: ۰۷۰۰۳۲۱۴۷۹ او ۰۷۰۰۳۵۹۵۴۲

چاپ چاري: احمد شاهي کتاب خانه (کابل بازار کندهار)

ددې کتاب د چاپ حقوق د خپرونکي سره خوندي دي!

شمارۀ	سرلیک	مخ
۱	د ناشر وړاندیز	۱
۲	د سر خبري	۲
۳	د خطبې د ایت ژباړه	۳
۴	د یهودي پلانونو سره د مقابلې طریقه	۳
۵	د قران کریم یو خاص اسلوب	۵
٦	قرانکریم د حق معیار دی	۶
۷	که اختلاف په خپلو حدودو کې دننه وي نو ناوړه نه دی	۸
۸	ببله شکه اسلام یو دی، لیکن...	۱۰
۹	اختلاف څنګه رحمت ګرځي؟	۱۱
۱۰	د اختلاف ترڅنګ تعظیم او احترام	۱۲
۱۱	د جمل او صفین د جګړې اړوند مشکل او جواب	۱۵
۱۲	یو مهم اصول	۱۶
۱۳	د رایې د اختلاف څخه چاره نسته	۱۸
۱۴	درې شیان	۱۹
۱۵	د تفرق او ډله بازۍ د جواز هیڅ صورت نسته	۲۰
۱٦	نهي عن المنکر څه وخت ضروري دی؟	۲۱
۱۷	د حضرت ابو سعید خدري aA واقعه	۲۲
۱۸	د اختر په لمانځه کې سجده سهوه ولې معاف ده؟	۲۴
۱۹	حطیم یې ولې په بیت الله کې نه کړی شامل؟	۲۴
۲۰	د مسلمانانو د بربادۍ دوه اسباب	۲۵
۲۱	په دوو مغرورو کسانو کې هیڅکله اتفاق نه سي راتلای	۲۶
۲۲	مه خپل مسلک پربږدئ او مه د بل په مسلک کار لرئ	۲۶
۲۳	خلاصه	۲۷

د ناشر وړاندیز

مولانا مفتي محمد رفیع عثماني صاحب د دارالعلوم کراچي صدر تېر کال د عمرې د پاره سعودي عربستان ته تشریف وړی و. ددغه سفر په دوران کي چي د ۱۴۲۵ د جماد الاولی ۱۳ چي د ۲۰۰۴ کال د جولای د اولي سره سمون خوري، په جده کي د بهجت ایوب زنجاني صاحب په کور کي د پوهانو یوه منتخبه اجتماع وه. چي په دې غونډه کي مولانا صاحب په خپل نوبت سره ډېر ګټور او عظیم خطاب د قران کریم او احادیثو په رڼا کي و محمدي امت ته وکړی. د عوامو د ګټې په خاطر "ادارة المعارف کراچي ۱۴" ته دا بیان د یوه کتاب په شکل کي ټولني ته د وړاندي کولو سعادت حاصلیږي. الله تعالی دي یې په خپل دربار کي قبول وګرځوي او ویونکو ته دي د دې کتاب څخه د صحیح ګټې اخیستو لو توفیق ورکړي. آمین

د دعا غوښتونکی
محمد مشتاق ستي
ادارة المعارف کراچي

ذوالحجه ۱۴۲۶هـ
مطابق جنوري ۲۰۰۶

د سر خبري

نحمده و نصلي على رسوله الكريم، اما بعد :

فَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ. بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٠٢﴾ وَٱعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ ٱللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُواْ ۚ وَٱذْكُرُواْ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَآءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِۦٓ إِخْوَٰنًا وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ ٱلنَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ ءَايَـٰتِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٠٣﴾

درنو او محترمو عزيزانو ! زه تر هر څه د مخه د ګران ورور محترم بهجت صاحب شکر ګذاريم چي هغه ددې فرصت خيال ساتلی او ستاسو درنو ډېر ممنون يم چي خپل قيمتي وخت مو را ويستی او ما کمزوري ته مو دا نيکمرغي راوبخښل چي ستاسو درنو په حضور کي د خپل زړه څه وويلای سم. الله تعالی دي تاسو ته ددې محبت جزاء خير درکړي. آمين

محترمو ! د جمله معترضه په ډول به دا خبره وکړم چي تاسو حضرات به شايد تعجب کوی چي ما احرام ترلی دی او ددې ترڅنګ مي خولۍ هم پر سر ده او موزې مي هم په پښو دي. اصلاً خبره دا ده چي ما تر اوسه پوري لا خپل احرام شروع کړی نه دی. تاسو درنو ته معلومه ده چي احرام ددې لباس څخه نه شروع کيږي بلکه څنګه چي تلبيه د نيت سره څوک ووايي د هغه وخت

څخه احرام شروع کیږي. خو کله چې د دې ځای څخه د روانېدو وخت سو نو ان شاءالله هغه وخت زه احرام شروع کوم.

د خطبې د ایت ژباړه

محترم بهجت صاحب ما ته دا ویلي وه چې که څه هم دا غونډه به ډېره مختصره وي خو په دې کي به د مختلفو تنظیمونو او مسلکونو سره تعلق لرونکي احباب موجود وي نو یو داسي بیان باید وسي چې زمونږ د ټولو لپاره ګټور وي. نو له همدې کبله ما د قران کریم هغه ایت انتخاب کړی چې ستاسو په مخ کي ما تلاوت کړی او د دې ایت ژباړه داسي ده:

"ای د ایمان خاوندانو! د الله څخه وبیرېږئ څومره چې دده څخه د ببرېدلو حق دی او تاسو ته دي مرګ نه رائي مګر په داسي حالت کي چې تاسو مسلمانان یاست. او تاسو د الله رسۍ په ټینګه ونیسئ او په خپل منځ کي مه مختلف (بې اتفاقه) کیږئ. او د الله تعالی هغه نعمت دریاد کړئ چې تاسو یو د بل دښمنان واست بیا الله تعالی ستاسو په زړونو کي الفت پیدا کړی او تاسو دده په فضل سره وروڼه وګرځېدلاست..."

د یهودي پلانونو سره د مقابلې طریقه

په "إِذْ كُنتُمْ أَعْدَآءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ... "کي د اوس او د خزرج د قبیلو د اختلافاتو طرف ته اشاره ده. دا د واړه د مدینې منورې د عربو مشهوري قبیلې وې، په کلونو کلونو یې ترمنځ د قتلونو او فسادونو لړۍ جاري وه. او یهودیان چې د مدینې په شا او خوا علاقه کي مقیم وه، هغو دغو دښمنیو ته لمن وهله او د همدغو اختلافاتو او جګړو څخه دوی ته مالي ګټه رسېدل

ځکه چې د دې جګړو څخه د یهودو اسلحې خرڅېدلې چې په دې سره یهودو ډېره شتمني لاس ته راوړل او جنګېدونکو دواړو ډلو (اوس او خزرج) به د یهودو څخه قرض اخیستی چې پر دې باندې بیا هغو سود هم خوړی.
یهودیانو دې جنګو ته په لمن وهلو سره څه څه پلانونه او دسیسې جوړولې؟ هغه یو اوږد داستان دی او هغه داستان تقریباً همدغسې دی لکه څنګه چې نن سبا د مسلمانانو په خپل منځ کې په جنګولو سره تکراریږي. په دغه ایت کې د هغه دسیسو سره د مقابلې کولو یوه طریقه ښودل سوې ده. او هغه طریقه تقوا اختیارول او په خپل منځ کې په اتفاق او اتحاد سره اوسېدل دي. په داسې حال کې چې تر ټولو مخکې دا حکم راته سوی دی:

" يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ..." یعنې ای د ایمان خاوندانو د الله څخه وېرېږئ. د الله څخه د ډېرې مطلب دا دی چې خپل ځانونه د هر قسم ګناهونو څخه وساتئ. د کوچنیو ګناهونو څخه یې هم وساتئ او د لویو ګناهو څخه یې هم وساتئ، د ښکاره ګناهو څخه هم او د پټو ګناهونو څخه هم. د حقوق الله اړوند ګناهونو څخه هم او د حقوق العباد اړوند ګناهونو څخه هم، د ظاهري اعضاوو د ګناهونو څخه هم او په زړه کې د پټو ګناهونو څخه هم ځانونه وساتئ.

د قران کریم یو خاص اسلوب

د قرانکریم یو خاص اسلوب دا دی چي کله یو حکم کوي او چي هغه په ظاهره د بنده ګانو لپاره څه مشکل وي نو د دغه مشکل د حلولو طریقه هم ورښوي. دا چي په دې ایت کي یې د " تقوا " حکم کړی دی چي دا دومره آسانه کار نه دی بلکه د ژبي، غوږ، زړه، لاس او پښې د هر قسم ګناه څخه ساتل یو مشکل کار دی. خو ددې مشکل د اسانۍ لپاره یوه طریقه په سورت توبه کي په داسي ډول راځي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَكُونُواْ مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١١٩﴾

ژباړه: ای ایمان والاوو! وبېرېږئ د الله څخه او د صادقینو سره واوسېږئ.

د "الصادقین" څخه مراد هغه خلک دي چي په ژبه هم رښتیني وي، په زړه کي هم رښتني وي، په عقیده کي هم رښتني وي او په عمل هم رښتني وي یعني د الله رښتني دوستان.

ګویا دا یې راته وښودل چي کله د الله د دوستانو سره اوسې نو تقوا لاس ته راوړل آسانه کیږي. او زموږ تجربه هم دا ده چي د الله والا خلکو سره په اوسېدولو د ګناهونو څخه ځان ساتنه آسانه کیږي. مثلاً که موږ د لسو پنځلسو ملګرو سره په یوه سفر روان سو، که هغه ټول ښه لمونځ ګذاره خلک وي، د ګناهو څخه خلاص خلک وي، متقي او پرهېزګاره خلک وي نو بیا د ګناهو د پاره هیڅ لاره نه پیدا کیږي بلکه ګناه کول مشکل وي. او که چیرې موږ د فاسقانو او فاجرانو خلکو سره په سفر کي ووځو چي هغوی نه د

لمانځه پروا لري، نه د حلال او حرامو او نه د پاکۍ اوناپاکۍ پروا لري نو هلته خو بيا د اودس کول هم مشکل ، د لمانځه کول هم او د نورو ګناهو څخه ځان ساتل هم مشکل وي.

قرانکريم د حق معيار دی

او دلته يې پر تقوا باندي د عمل کولو معيار راوښوی هغه دا چي: " وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْ..." يعني "د الله ﷻ رسۍ" يعني قرانکريم ټينګ ونيسئ. يعني دا يې راوښول چي که ټوله په ګډه سره قرانکريم په مضبوطۍ سره ونيسی يعني ټوله په ګډه سره پر دې عمل وکړی نو تقوا لاس ته راځي ځکه چي پر قران عمل کول په اصل کي تقوا ده.

ددې څخه معلومه سوه چي قران د حق معيار دی (حقه لار اصلاً په قرانکريم معلوميږي). او بيا چي قران کوم شی د حق معيار ټاکلی وي هغه هم د حق معيار دی. هغه داسي چي قرانکريم رسول الله ﷺ د حق معيار بللی دی، اصحاب کرام ﷺ يې د حق معيار بللي دي او د الله ربښتني دوستان (اولياء) يې د حق معيار بللي دي.

ګويا اوله خبره دا سوه چي قران بايد خپل رهبر او رهنما وګرځول سي او پر هغه عمل وکړل سي. مګر موږ د يوه معلم د لارښوونې څخه پرته په قران مجيد په پوره ډول نه سو پوهيدلای ځکه چي د انسان معلم کتاب نه وي بلکه انسان وي. د دنيا هيڅ علم او فن يوائي د کتاب د مطالعې څخه نه سي لاس ته راتللای. الله رب العزت د هر کتاب او هري صيحفې سره يو نبي رالېږی چي هغه يې ددې کتاب يا صيحفې معلم جوړيدی. قرانکريم د رسول الله

ﷺ په ذریعه رالیږل سوی دی او خپله قران مجید رسول الله صلی الله علیه وسلم د قران معلم ټاکلی دی. په سورت آل عمران کي د رسول الله ﷺ د پیغمبري د مقاصدو څخه دوه مقصده دا ښوودل سوی دي:

وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ... (۱۶۴)

ژباړه: او (رسول الله ﷺ) مؤمنانو ته قران او حکمت یعني د پوهې خبري ورښووي.

د رسول الله ﷺ په منصبي فرایضو کي دا خبره شامل کړل سوې ده چي هغه د قران مجید الفاظ هم امت ور وښوي او د قرانکریم معنی او مفهوم هم ور وښوي. دا مضمون په قران مجید کي تر څلورو په زیاتو ځایونو کي بیان سوی دی.

هیڅ کتاب د نبي څخه بغیر نه دی راغلی البته داسي ضرور پیښه سوې ده چي نبي راغلی دی خو کتاب نه دی راغلی. نو معلومه سوه چي په کتاب الله د پوهېدو او په هغه د عمل کولو لپاره معلم لازمي دی. د قران کریم معلم هغه د کونینو تاجدار، سرور عالم ﷺ دی، او بیاد هغه شاګردان چي دده څخه یې دا کتاب زده کړی دی هغه صحابه رضی الله عنهم د قران معلمان دي، او بیا د هغو شاګردان او بیا د هغو شاګردان (ددې کتاب معلمان دي) تر داسي اندازې چي دا سلسله الحمد لله تر اوسه پوري په تواتر سره را روانه ده.

که اختلاف په خپلو حدودو کي دننه وي نو ناوړه نه دی

په دې ایت کي ورپسې بل حکم دی چې: " تاسو د الله رسۍ په ټینګه ونیسئ او په خپل منځ کي مه بې اتفاقه کیږئ ."

دلته په خاص ډول په دې اعتبار سره د خاص پاملرني ضرورت دی چې قران مجید په دې ځای کي د "وَلَا تَفَرَّقُواْ " (په خپل منځ کي بې اتفاقي مه راولئ) لفظ استعمال کړی دی د " وَلا تَخْتَلِفُوْ اْ " (اختلاف مه کوئ) لفظ یې نه دی استعمال کړی ځکه چې اختلاف یعني د رایي اختلاف که چیرې د قران او سنتو په تعبیر او تشریح کي وي، اخلاص، للهیت او د تقوا په موجودیت کي وي، خپله لویي ښکاره کول او د نورو د ذلیل کولو په نیت نه وي او اختلاف کونکی د قران او سنتو د تشریح کولو اهلیت ولري او په داسي مسائلو کي اختلاف وي چې په هغو کي واقعاً د رایي اختلاف راتللای سي (چې هغو ته په اصطلاح کي "مجتهد فیه" مسائل ویل کیږي یعني داسي مسائل چې د هغو په باره کي په قران اوسنتو کي کوم واضح حکم نه وي ورکول سوی) نو دغسي اختلاف مذموم (بد) نه دی بلکه محمود دی. د صحابه کرامو ﷺ ترمنځ هم د رایي دا ډول اختلاف موجود وو او دا اختلاف په هغو معاملاتو کي راغلی چې د هغو په اړه په قران او حدیث کي کوم واضح حکم موجود نه وو.

په بعضو حالاتو کي د رایي د اختلاف په نتیجه کي د صحابه کرامو ﷺ څخه ځینو پر یوه رایه عمل وکړی او نورو پر بله رایه عمل وکړی، نبي کریم ﷺ پرې خبر سو نو ده مبارک پر هچا اعتراض ونه فرمایه، مثال یې دا دی

چي د احزاب د غزا څخه تر فارغېدو وروسته جبرائل امين عليه السلام د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړی چي: تاسو زغره ايسته کړل مونږ خو لا تر اوسه نه ده ايسته کړې تاسو به اوس پر بنو قريظه باندي حمله کوی، نو نبي کريم ﷺ سمدستي صحابه کرامو ته د بنو قريظه خوا ته د تللو حکم ورکړی او ويې وفرمايل: لاَ يُصَلِّيَنَّ أَحَدٌ الْعَصْرَ إِلاَّ فِي بَنِي قُرَيْظَةَ. [1]
ژباړه: په تاسو کي دي هيڅوک د مازيګر لمونځ نه کوي مګر په بني قريظه کي (به يې کوي).

صحابه کرام رضي الله عنهم روان سول ليکن په لاره کي د مازيګر د لمانځه وخت راغلی، اوس سوال دا وو چي که چيري د مازيګر لمونځ په بنو قريظه کي اداء کوي نو لمونځ قضاء کيږي يا يې وخت مکروه کيږي او که يې دلته اداء کړي نو په ظاهره د رسول الله ﷺ نافرماني کيږي. د صحابه کرامو رضي الله عنهم دوې رايي او نظريې سوې، د يو څو صحابه کرامو رضي الله عنهم قول دا وو چي د رسول الله ﷺ مقصد دا وو چي مونږ بايد ژر بنو قريظه ته ورسيږو تر داسي اندازې چي د مازيګر لمونځ هلته ورسوو، ګويا د لمانځه قضاء کول مقصد نه دی بلکي ژر رسېدل مقصد دی ليکن څرنګه چي اوس د مازيګر په وخت کي دننه هلته رسېدل مشکل دي نو له دې لپاره مونږ ته لمونځ هم دلته کول په کار دي.

١: رواه البخاري، كتاب المغازي، باب مَرْجَعِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم مِنَ الأَحْزَابِ وَمَخْرَجِهِ إِلَى بَنِي قُرَيْظَةَ

د نورو صحابه کرامو ﷺ رایه بیا دا وه چي څرنګه چي د رسول الله ﷺ حکم دا وو چي د مازیګر لمونځ به په بنوقریظه کي کوو نو که قضاء وي یا اداء کول وي، په هر حال کي لمونځ هم هلته کول په کار دي. نو ځینو صحابه وو ﷺ په لاره کي لمونځ وکړی او ځیني هلته ورسېدل او لمونځ یې اداء کړی. وروسته دا واقعه د رسول الله ﷺ په حضور کي بیان کړل سوه نو ده مبارک ﷺ پریوې ډلي لا هم ملامتیا ونه فرمایل.

ددې څخه دا خبره معلومه سوه چي که چیري د قران او سنتو په ارشاداتو کي د دوو معناګانو احتمال وي او د هغو څخه یو احتمال د علم خاوندان په اجتهاد کولو سره اختیار کړي او بعضي نور اهل علم بل احتمال اختیار کړي نو په هغوی کي هیڅ طرف ناجائز نه وي او پر دې باندي هیڅ اعتراض هم جائز نه دی، د فقهاوو د اختلاف حقیقت هم دا ډول دی.

بېله شکه اسلام یو دی، لیکن...

نن د فقهاوو اختلاف ته په بده سترګه کتل کیږي چي اسلام خو یو دی نو بیا دا حنفي، مالکي، شافعي او د حنبلي کېدلو څه مطلب دی؟ بېله شکه اسلام یو دی، الله تعالی یو دی، قران یو دی، قبله یوه ده، نبي ﷺ یو دی لیکن په همدغه یوه دین کي دننه الله ﷻ دا (یو ډول) نرمي (تحرک) ایښی دی چي په ځینو احکاماتو کي دننه یې مختلف امکانات او احتمالات کښېښول تر څو د هري زمانې فقها او مجتهدین د قران او سنتو پر دلائلو په غور کولو سره مسائل استنباط کړای سي او په داسي صورت کي د مجتهدینو د رایو ترمنځ اختلاف راتلل یو ظاهري خبره ده لیکن ددې اختلاف حق د هغه چا دی

چي په هغه کي د اجتهاد صلاحيت موجود وي، د قران او سنتو ماهر وي او د تر بحث لاندي مسائلو اړوند ټول احاديث دده په علم کي وي.

اختلاف څنګه رحمت جوړيږي؟

داسي خلګ چي کله په يوه مسئله کي د رايي اختلاف کوي، د رايي دا اختلاف د امت لپاره رحمت جوړيږي، هغه څنګه؟ ددې مثال داسي وبولی چي د يوې مسئلې اړوند د مجتهدينو دوه اقوال دي او دواړه اقوال پر دلائلو ولاړ دي ليکن قطعي دلائل د يوه فقيه سره لا هم نسته. اوس نو يو شخص د مجبوره کونکي حالاتو ښکار سو نو ددې زمانې د مفتي لپاره دا ګنجايش وي چي دی د هغه بل مجتهد پر قول فتوا ورکړي.

ددې برعکس په کوم بل هيواد کي دهغه د برعکس پر قول باندي د فتوا ورکولو سخته اړتيا رامنځته سوه نو د هغه ځای د مفتي لپاره ددې ګنجايش دی چي هغه د خپل مجتهد امام قول پريږدي دده پر مخالف قول باندي فتوا ورکړي. ګويا په يوه هيواد کي پر يوه قول فتوا ورکول سوه او په بل ملک کي ددې برعکس قول اختيار کړل سو، په همدې ډول په شريعت کي نرمي پيدا سوه او د امت لپاره رحمت جوړ سو، دې ته وفرمايل سول چي:

اختلاف امتي رحمة. [2]

٢: كشف الخفاء ج١، ٦٦، رقم الحديث: ١٥٣

د اختلاف ترڅنګ تعظیم او احترام

لیکن دا اختلاف دی "تفرّق" نه دی، د صحابه کرامو ﷺ ترمنځ هم اختلاف راغلی دی "تفرّق" نه دی راغلی، بې اتفاقي او جلا والی نه دی راغلی، د فقهاء کرامو ترمنځ هم اختلاف وو، "تفرّق" نه وو، فرقه بندي او ډله بازي نه ده سوې، حال دا چې د خپل منځي اختلاف سربېره مجتهدین امامانو یو د بل تعظیم او احترام کاوه او اوس هم د دوی د مسلکونو (مذهبونو) پیروان یو د بل سره په ډېر تعظیم او احترام سره وینې.

زه همدا اوس د اُردن څخه راغلم، زما ټول کور به شافعي مذهبه وه، شام ته ولاړم نو هلته ځني شافعي، ځني حنبلي او ځني حنفي مذهبه وه، لیکن زموږ د هغو ټولو سره دوستۍ وې. بعضي وخت په سفر کي داسي کېدل چې د ماپښین په وخت کي به زموږ ځینو ملګرو ویل چې موږ خو د ماځیګر لمونځ هم همدا اوس اوس اداء کوو (ځکه چې د دوی په مذهب کي ددې ګنجایش دی چې د سفر په حالت کي د ماځیګر لمونځ هم د ماپښین د لمانځه وروسته د ماپښین په وخت کي اداء کړل سي)، موږ ورته ویل چې نه دی تاسو یې اداء کړی، موږ پر خپل وخت د ماځیګر لمونځ اداء کوو لیکن مینه، تعظیم او احترام پر خپل حال پاته وو.

د امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ او د ځینو نورو فقهاوو دا مذهب دی چې کله د جماعت لمونځ کیږي نو د مقتدي لپاره هم د سورت فاتحه ویل ضروري دي، په داسي حال کي چې د امام ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ په نزدد مقتدي لپاره په داسي صورت کي سورت فاتحه ویل جائز هم نه ده، دا یو ډېر لوی اختلاف دی، د لمانځه اړوند چې څه نور اختلافات دي هغه د افضل او غیر افضل

(اختلافات) دي، ليکن دا اختلاف د وجوب او د عدم جواز دی، او دلائل د دواړو سره په قوي درجه سره سته، د قران کريم او صحيح احاديثو څخه دي.

امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ د امام محمد رحمۃ اللہ علیہ شاګرد دی او امام محمد رحمۃ اللہ علیہ د امام ابوحنيفه رحمۃ اللہ علیہ شاګرد دی، امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ د امام ابوحنيفه رحمۃ اللہ علیہ و مزار ته حاضر سو، هلته د لمانځه وخت راغلی، د امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ دا عام عادت وو چي هغه د امامت لپاره نه مخته کېدی ليکن دلته چي کله د جماعت وخت راغلی نو خپله د امامت لپاره وړاندي سو، لمونځ يې ورکړی او په لمانځه کي يې رفع اليدين ونه کړی (د رفع اليدين اختلاف د افضل او غيرافضل دی، د امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ په آند رفع اليدين کول افضل دی او د امام ابوحنيفه رحمۃ اللہ علیہ په آند نه کول افضل دي).

کله چي د لمانځه څخه فارغه سو نو يوه شاګرد ځني وپوښتل چي دا څه خبره ده؟ ستاسو عادت خو د امامت کولو نه وو دلته تاسو خپله مخته سولاست، او بيا مو رفع اليدين هم ونه کړی. ويې فرمايل چي رفع اليدين مي په دې خاطر ونه کړی چي دا زما په نزد افضل خو دی واجب خو نه دی، ما ته دلته په لمانځه کولو کي شرم راغلی چي زه د امام ابوحنيفه رحمۃ اللہ علیہ د رايي خلاف عمل وکړم. او د امام لپاره ځکه مخته وړاندي سوم چي که ما د چا تر شا لمونځ کوی نو ما به سورت فاتحه ويلای ځکه چي زما د مسلک مطابق بېله دې څخه لمونځ نه کيږي مګر دلته د امام صاحب د مسلک پر خلاف کار کولو ماته شرم ودرېدی نو په دې خاطر زه (اوس په لمانځه کي) امام سوم ځکه چي امام ته د دواړو مذهبونو مطابق سورت فاتحه ويل ضروري ده.

دا وو ددې خلکو یو تر بله احترام او تعظیم، کوم خلک چې دا اختلافات د ملامتیا ذریعه جوړوي، هغوی د انتهایي درجې بې دینۍ څخه کار اخلي او یا د انتهایي درجې ناخبرۍ پر بنیاد دا خبري کوي! کوم حضرات چې د دغو اختلافاتو حقیقت پېژني، هغوی ته معلوم دي چې دا اختلافات محضي د الله ﷻ لپاره وه، په دې کې د نفس هیڅ مداخله نه وه، بلکي کوم اختلافات چې د فقهاء کرامو ترمنځ وروسته سوي دي، دا د صحابه کرامو ﷺ ترمنځ هم موجود وه، دارنګه چې بعضي صحابه کرامو ﷺ "قرائت فاتحه خلف الامام" ویل ، لیکن بعضو نه ویل، بعضو رفع الیدین کوی خو بعضو نه کوی، بعضو آمین په لوړ آواز وایه خو بعضو نه وایه. د لمانځه د قصر په باره کې د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ مسلک د حضرت عثماني غني ﷺ د مسلک څخه مختلف وو ، دا ټولي خبري وې لیکن پر دې سربېره قران مجید د دوی په باره کې فرمایي:

أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ ۖ . (سورة الفتح، ایت۲۹)

ژباړه: (صحابه کرام ﷺ) د کفارو په مقابله کې سخت او په خپل منځ کې نرم زړه دي.

قران مجید د امتیاز داطلایي کربنه ټولو صحابه کرامو ته ورکړې ده چې دوی په خپل منځ کې رحیم او کریم دي، معلومه سوه چې د دوی دا اختلاف خالص پر للهیت باندي ولاړ وو ، پر نفس یا ضد باندي نه وو مبني.

د جمل او صفین د جګړې اړوند مشکل او جواب

دلته یو څوک دا سوال کولای سي چې د جمل او صفین د جګړې کوم واقعات چې رامنځ ته سول، هلته یو د بل خلاف جګړې ته لاس واچول سوو ،دا څه شي وو؟ ایا دا تفرق وو او که اختلاف؟ جائز وو او که ناجائز؟ پر نفسانیت بنا وو او که پر للهیت بنا وو؟

ددې اصولي جواب خو په دې ایت کي ورکول سوی دی چې همدا اوس بیان کړل سوو چې د هغه څخه معلومیږي چې دا حضرات " رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ " وه، معلومه سوه چې د هغوی هیڅ جګړه د نفسانیت لپاره نه وه، حال دا چې ددې نورې پر دلائل هم سته چې تاریخ هغه محفوظ کړي دي.

۱:- د حضرت علي رضي الله عنه څخه د صفین د جګړې پر وخت دا وپوښتل سول چې د سبا په جنګ کي که موږ د خپل مخالف لښکر صحابه قتل کړو نو د هغو به څه حکم وي؟ ویې فرمایل چې هغوی به شهیدان وي، بیا یې ځني وپوښتل: که زموږ د لښکر کسان قتل کړي نو د هغو به څه حکم وي؟ ویې وفرمایل چې هغوی به هم شهیدان وي. همدا سوال د حضرت معاویه رضي الله عنه څخه هم وسو، هغه هم هغه جواب ورکړی کوم چې حضرت علي رضي الله عنه ورکړی وو[3]. ځکه چې دواړې ډلې د الله جل جلاله لپاره جنګیدلې نه د حکومت لپاره.

۳: مقدمه ابن خلدون، فصل ۳۰، ص۳۸۵

۲:- دوهم دلیل چي تاریخ ساتلی دی دا دی چي: د صفین د جنګ په زمانه کي دا خبر راورسېدی چي د روم عیسوی پاچا "قیصر" غواړي چي پر شام حمله وکړي نو حضرت معاویه رضي الله عنه هغه ته داسي خط ولیکی[4]:

" ستا د کومي ارادې خبر چي موږ ته رسېدلی دی، که تا پر دې باندي عمل وکړی نو زه د خپل ملګري (حضرت علي رضي الله عنه) سره صلح کوم او د هغه په تر ټولو مخکي صف کي درېږم او ستا طرف ته درځم او د بدبویه قسطنطنې (استنبول) څخه توره ایره جوړوم او تا د پاچاهۍ څخه د زردکي په ډول راکاږم او داسي بزګر درځخه جوړوم چي خنزیران به پیایي (څروي)."

دا د صحابه کرامو رضي الله عنهم شان وو، ربنتیا خبره دا ده چي موږ صحابه کرام رضي الله عنهم د نن سبا پر سیاست پوهانو قیاسوو، ترمنځ یې د مځکي او آسمان فرق دی، موږ وګوره او صحابه کرام رضي الله عنهم وګوره! قران مجید او احادیث د هغو د فضائلو څخه ډک دي.

یو مهم اصول

یو مهم اصول د یادولو وړ دی چي زموږ والد ماجد (حضرت علامه مفتي محمد شفیع) رحمة الله علیه په خپل کتاب "**مقام صحابه** رضي الله عنهم" کي لیکلی دی، چي د هغه حاصل دا دی چي کله تاسو د تاریخ یو کتاب راواخلی نو تاسو ته به د بعضو صحابه کرامو رضي الله عنهم مثلاً د حضرت معاویه رضي الله عنه په اړه ډول ډول خبري په لاس درسي، نو حیران به سی چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابي حضرت معاویه

۴: تاج العروس: ج۷، ص۲۰۸، همدارنګه وګورئ: الغریب للخطابي، ج۲، ص۵۳۵، الفائق: ج۱، ۴۶، لسان العرب، ج۱، ص۱۱۶ او ص ۱۵۴

ﷺ داسي کوي؟! کله بيا د حضرت عمرو بن العاص ﷺ په اړه همداسي خبري مخي ته درځي او کله بيا د بل صحابي په اړه وي، ليکن خبره دا ده چي د تاريخي روایاتو سند په دومره اندازه قوي او مضبوط نه وي لکه څرنګه چي د احاديثو دا مضبوط وي او نه هم تاريخ پوهان د هغو ټاکل سوو شرائطو پابندي کوي د کومو شرائطو پابندي چي محدثين کوي. په تاريخي روایاتو کي کمزوره بلکه د درواغجنو راویانو روایتونه هم راځي، په داسي حال کي چي په احاديثو کي دننه په پلټنه سره اوبه او شيدې جلا سوي دي، او د صحابه کرامو ﷺ فضائل، د هغو بزرګي، د هغو پاکي او د هغو انصاف په قران کريم او متواترو احاديثو کي بيان کړل سوي دي، همدا وجه ده چي د صحابه کرامو ﷺ د تقدس (پاکۍ) مسئله د عقيدې مسئله ده او عقيده يا خود قران کريم څخه ثابتيږي او يا د متواترو احاديثو څخه ثابتيږي، د تاريخي روایاتو څخه خو چيري ثابتيږي بلکه د احاديثو د يو ډول "خبر واحد" څخه لا هم نه ثابتيږي. نو له همدې امله د صحابه کرامو ﷺ د عدالت داغونکي څومره روایات چي په تاريخ کي وي هغه ټوله په کثافت دانۍ کي د غورځولو وړ دي.

درايي د اختلاف څخه چاره نسته

زمونږ والد ماجد رحمۃ اللہ علیہ عجبه خبره فرمايل، هغه دا چي په کوم ځای کي کومه قطعي خبره نه کيږي بلکي مختلف ډوله احتمالات وي او ډېر کسان پر هغه باندي غور او فکر کوي نو هلته د رايي د اختلاف څخه هيڅ چاره نسته. د رايي د اختلاف د نه کېدو صرف دوه صورتونه کېدلای سي: يا به ټول بې علمه وي چي يوه يو خبره وکړي نو ټول به يې سمدستي په ړندو سترګو ورسره مني او يا به ټوله منافقان وي چي رايه خو بل ډول وي مګر د ړانده تقليد په خاطر د خپل زړه خبره پټه کړي. ليکن که منافق هم نه وي او بې علمه هم نه وي بلکي عالمان او ديندار ه وي نو بيا به د رايي اختلاف خامخا راځي او دا (اختلاف) يواځي تر ديني مسائلو پوري خاص نه دی بلکي د هر علم او فن همدا حال دی. په ډاکټرانو کي اختلاف وي، په انجينرانو کي اختلاف وي، د قانون په تشريح کي د سترو محکمو ترمنځ اختلاف راځي، داسي اختلاف ته هيڅيري بد نه ويل کيږي. همدارنګه په قران او سنتو کي د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم ترمنځ اختلاف راغلی او د مجتهدينو امامانو ترمنځ هم راغلی ليکن دا اختلاف دی "تفرق" نه دی، ډله بازي نه ده، اختلاف جائز دی، تفرق يعني سره جلا کېدل (بې اتفاقي او دښمني) کول جائز نه دي.

درې شیان

پر تفرق باندي د خبرو کولو څخه مخکي دا خبره په ذهن کي ولری چي د اختلاف اړوند چي کومي خبري وسوې، د هغه حاصل او خلاصه درې شیان دي:

یو دا چي کوم اختلاف چي د قران او سنتو پر بنیاد باندي د اخلاص او د الله ﷻ لپاره وي او په اختلاف کونکي کي دا اهلیت موجود وي کوم چي د هغه لپاره ضروري دی نو دا اختلاف منع نه دی بلکي د امت لپاره رحمت دی.

دوهم دا چي دا اختلاف په داسي مسائلو کي وي چي قران او سنتو د هغه په اړه کومه قاطع فیصله نه وي کړې، داسي مسائل چي په هغه کي د اجتهاد ګنجایش وي یعني تر یوه د ډیرو رایو احتمال پکښې وي، په هغو کي چي هره ډله کومه رایه د دلائلو پر بنیاد قایمه کړي نو هغه ناجائزه او ناخوښه نه وي.

نو څرنګه چي هغه ناجائزه نه ده نو د چا لپاره بیا دا جائز نه ده چي بل یو ددې په خاطر وترتي. مثلاً یو شخص رفع الیدین کوي، بل یې نه کوي، کونکي ته یې دا جائز نه ده چي نه کونکی وترتي او نه کونکي ته هم دا جائز نه ده چي هغه کونکی وترتي ځکه چي دلته هیڅ رایه منکر نه ده او پر غیرمنکر باندي اعتراض کول خپله منکر دی.

دریمه خبره دا چي مثلاً موږ وایو چي موږ حنفي یو او فلانکی شافعي دی یامالکي دی او یا حنبلي دی نو ددې دا هیڅکله مطلب نه دی چي د امام ابو حنیفه رحمۃ اللہ علیہ قول یقیناً یقیناً صحیح دی او د امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ قول او یا

د بل امام مثلاً امام احمد بن حنبل رحمۃ اللہ علیہ قول یا د امام مالک رحمۃ اللہ علیہ قول چې د دې په مقابل کې دی هغه نو یقیناً غلط دی، بلکې ددې مطلب دا وي چې زمونږ قول "**مظنون الصواب**" او "**متحمل الخطاء**" دی، په داسې حال کې چې هغه بل قول "**مظنون الخطاء**" او "**متحمل الصواب**" دی. یعني غالب ګمان دا دی چې د امام ابو حنیفه رحمۃ اللہ علیہ قول صحیح دی که څه هم ددې قول د غلطېدو احتمال هم سته او د نورو امامانو په اړه زمونږ نظریه دا ده چې زمونږ غالب ګمان دا دی چې هغه خطاء دی لیکن دا احتمال یې هم سته چې هغه دې صحیح وي.

د تفرق او ډله بازۍ د جواز هیڅ صورت نسته

دوهم شی "تفرق" دی یعني په مسلمانانو کې جلاوالی (بې اتفاقي) راوستل، دا دومره لویه ګناه ده چې شریعت په هیڅ حالت کې ددې اجازت نه دی ورکړی. د خنزیر غوښه چې څومره حرامه ده، د مسلمانانو سره جلاکول (په منځ کې دښمني راوستل) تر دې ډېر حرام کار دی! د خالصو انګورو شراب چیښل چې څومره لویه ګناه ده، په مسلمانانو کې جلاوالی راوستل تر دې لویه ګناه ده. تاسو وګورئ چې په بعضي انتهایي مجبورونکي حالاتو کې شریعت تر یوه حده د خنزیر د غوښو خوړلو او د شرابو چیښلو (مثلاً یو شخص د ډیري سختي لوږې یا تندي په خاطر هلاک کیږي او کوم حلال شی میسر نه وي نو دومره د خنزیر غوښې خوړل یا شراب چیښل چې په هغه سره ځان بچ کړي، ددې اجازت یې کړی دی) لیکن په مسلمانانو کې یې د جلاوالي (دښمنۍ) اجازت په هیڅ حالت کې نه دی ورکړی. څومره چې مونږ په قران او سنتو کې غور کړی دی او څومره چې زمونږ بزرګانو مونږ ته

لارښونه کړې ده، مورږ ته هم دا په نظر راغلې ده چې د "تفرق" او فرقه یا ډلې جوړولو هیڅ صورت جائز نه دی.

نهي عن المنکر څه وخت ضروري دی؟

د نن زمانې یو لوی مصیبت همدا دی چې یو تر بله د رایې اختلاف د خپل منځي جنګ او جګړې او د بې اتفاقۍ او جلاکېدو ذریعه ګرځول سوې ده. د شیطان یوه لویه قاعده دا ده چې هغه عالم ته د عالم په شکل کي راځي، صوفي ته صوفي جوړ سي او ورته راځي او فقیه ته فقیه جوړ سي راځي او هغه داسي پوهوي چې ګوره فلانکي شخص دا غلط کار وکړی او د حق خبره (هغه) ته کول فرض عین ده او په حدیث شریف کي راغلي دي:

مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذَلِكَ أَضْعَفُ الإِيمَانِ.[5]

ژباړه: په تاسو کي چې کوم شخص هم د کوم بد کار کړنه وویني نو هغه دي یې په لاس سره منع کړي، که یې ددې طاقت نه وي نو په ژبه سره دي یې منع کړي، او که یې ددې هم طاقت نه وو نو په زړه سره دي یې بد وګڼي او دا دایمان تر ټولو کمزورې درجه ده.

لیکن شیطان دا خبره ځني هیروي چې هغه شخص چې کوم کار منع کول غواړي هغه خو بد کار نه دی! ځکه چې ددې تعلق د مجتهد فیه مسائلو سره دی او د شرعي دلیل پر بنیاد دی او که بد کار هم وي او پر دې باندي د اعتراض کولو (یا بندلو) باندي د بلي لویي فتنې پیدا کېدلو ببره وي نو په

۵: رواه مسلم، کتاب الایمان، باب کون النهي عن المنکر من الایمان.....الخ، ج۱، ص۵۰

داسي صورت کي "**نهي عن المنکر**" لا هم جائز نه دی، بلکي سکوت او چپېدل واجب دي! په حدیث شریف کي چي راغلي دي چي: "مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ...الخ" دلته د استطاعت (طاقت لرلو) څخه صرف حسي استطاعت او حسي قدرت مراد نه دی بلکي په قدرت کي دا خبره هم داخل ده چي که ددې منکر کار د لیري کولو څخه د کوم بل منکر کار د پیدا کېدلو ېېره وي یا په مسلمانانو کي د بې اتفاقۍ (دښمنۍ) ېېره وي نو داسي ثابتیږي چي قدرت حاصل نه دی او دلته سکوت او چپوالی واجبیږي.

د حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه واقعه

ددې مثال په صحیح مسلم کي د حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه دا واقعه ده چي دده په زمانه کي مروان بن الحکم د مدینې منورې والي وو، ده (مروان) دا طریقه اختیار کړه چي د اختر په لمانځه کي يې خطبه د لمانځه څخه مخکي ورکول غوښتل، حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه او هغه عیدګاه ته یو ځای راغلي وه، حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه هغه د مصلی طرف ته ورمخ ته کړی تر څو د سنتو مطابق د اختر لمونځ مخته سي او خطبه وروسته سي، لیکن هغه منبر ته وختی نو یو شخص ودرېدی، هغه هیڅ سختي خبري ونه کړي لیکن صرف دا یوه جمله يې وویل:

الصَّلَاةُ قَبْلَ الْخُطْبَةِ

لمونځ تر خطبې مخکي کیږي.

لیکن مروان وویل چې هغه طریقه ترک (پاته) سوې ده، حضرت ابو سعید خدري AA ولاړ سو او ویې فرمایل:

أَمَّا هَذَا فَقَدْ قَضَى مَا عَلَيْهِ. (رواه مسلم، كتاب الايمان)

(دا شخص کوم چې دا مسئله یې بیان کړه) هغه دا فریضه اداء کړل چې دده پر ذمه وه.

اوس دلته د غور کولو خبره همدا ده چې دلته حضرت ابو سعید خدري ﷺ او هغه شخص لره دا قدرت حاصل وو چې دوی مروان ونیسي او د منبر څخه یې لاندي راکښته کړي لیکن شرعي قدرت یې نه درلودی! ځکه که یې داسي کړي وای نو جنګ او جګړه را منځ ته کېده، ځني خلګ د حضرت ابو سعید خدري ﷺ پر طرف درېدل او ځني د مروان بن الحکم پر طرف کېدل چې ددې په نتیجه کې د مسلمانانو په منځ کې بې اتفاقي او درز پیدا کېدی. نو د حضرت ابو سعید خدري ﷺ ددې قول څخه دا معلومه سوه چې دلته یوائې په خبره سره د هغه پوهکول کافي وه، د لاس د استعمالولو اجازت نه وو، نو معلومه سوه چې د منکر کار منع کول هم تر دې شرط پوري مشروط دي چې په دې سره د مسلمانانو ترمنځ بې اتفاقي، جلاوالی او درز رانسي.

د اختر په لمانځه کي سجده سهوه ولي معاف ده؟

ددې یو بل مثال دا دی چي د شریعت مسئله ده چي که په لمانځه کي واجب پاته سي نو سجده سهوه واجبېږي لیکن فقهاوو لیکلي دي چي که د اختر په لمانځه کي واجب پاته سي نو سجده سهوه دي نه کول کیږي، وجه یې دا بولي چي د اختر په لمانځه کي مجمع ډېره زیاته وي او د اختر د لمانځه طریقه د عامو لمونځو څخه یو څه مختلفه هم وي، که په دې کي سجده سهوه وکړل سي نو ډېر زیات خلګ چي په پوره ډول د مسائلو څخه خبر نه وي نو هغوید وارخطایی ښکار کیږي، څوک به سجده کوي، څوک به سلام ګرځوي، څوک به دریږي، بیا به ترمنځ جنګ جوړیږي، ځني خلګ به امام ته ګوته نیسي چي تا زمونږ لمونځ را خراب کړی نو شریعت امت د جګړې کولو څخه د ساتني په خاطر دا حکم وکړی چي دلته سجده سهوه مه کوئ.

حطیم یې ولي په بیت الله کي نه کړی شامل؟

ددې یو بل ډېر واضح مثال دا دی چي بیت الله شریفه چي د ټول امت مسلمه تر قیامته پوري قبله ده، تاسو ته معلومه ده چي ددې سره نژدې یو څه حصه د "حطیم" په نامه یادیږي، دا په اصل کي د بیت الله حصه وه لیکن کله چي قریشو دا تعمیر کړل نو د دوی سره د پیسو کمی وو نو ځکه هغو یو څه حصه پرېښول، په داسي حال کي چي د حضرت ابراهیم علیه السلام په واسطه ایښودل سوي بنیادونه د حطیم تر حصې پوري دي، حضرت رسول الله ﷺ یو ځل حضرت عایشې صدقې رضی الله عنها ته وفرمایل: که ستاسو قوم (یعني مسلمانانو) **حدیث العهد باالاسلام** نه وای (یعني که چیري دوی تازه اسلام نه وای قبول کړی) نو ما دا بیت الله د حضرت ابراهیم علیه السلام د بنیادونو مطابق

جوړول (ليکن څنګه چي خلګ نوي مسلمانان سوي دي نو ځکه خطره ده چي که زه دا يوه حصه ونړوم او د حطيم حصه ورسره شامله کړم نو په نوي مسلمانانو کي به ځني کسان د اختلاف ښکار سي چي په دې سره په مسلمانانو کي د درز او بې اتفاقۍ ښېره سته) [6].

وګورئ! رسول الله ﷺ مسلمانان د بې اتفاقۍ او جنګ څخه د ساتلو لپاره بيت الله چي تر قيامته د مسلمانانو قبله ده ناکمله پرېښول او تر اوسه لا همداسي نامکمله ده. په داسي حال کي چي دا د ټولي نړۍ د بيلونونو انسانانو قبله ده او ددې رتبه تر مسجد ډېره زياته ده ليکن د مسلمانانو د بې اتفاقۍ، جنګ او جدل څخه د ساتني په خاطر يې دا همداسي نامکمله پرېښول.

د مسلمانانو د بربادۍ دوه اسباب

حضرت شيخ الهند رحمه الله چي کله د انګرېزانو د مالټا د بنديخانې سختۍ او زحمتونه برداشت کړل او ازاد کړل سو نو بيرته يې ديوبند ته تشريف راوړی نو په يوه مجلس کي چي په هغه کي صرف علماء کرام وه داسي وفرمايل: مونږ د مالټا ددې ټول قيام په وخت کي دوه سبقه زده کړل، په مجلس کي ډېر ستر ستر مشهوره علماء موجود وه، هغوی ټول ژر متوجه سول چي د خپل وخت امام چي دوې خبري زده کړي دي او راغلی دی، هغه به څومره مهمي خبري وي. نو ويې فرمايل: مونږ دوه شيانو تباه کړي يو: يو د قران کريم څخه ليري والي، او بل د مسلمانانو د خپل منځي اختلاف. ما دا سبق

۶: بخاري، باب مَنْ تَرَكَ بَعْضَ الاِخْتِيَارِ مَخَافَةَ أَنْ يَقْصُرَ فَهْمُ بَعْضِ النَّاسِ....الخ، رقم الحديث: ۱۲۶، مسلم، رقم الحديث: ۱۳۳۳

راوړی دی چي د ژوند څومره لحظې چي پاته دي هغه به د قران مجید په خدمت کي او د مسلمانانو ترمنځ د اختلاف په ختمولو کي تیروو.
هره بدي تر یوه وخته او تر یوه حده تحمل کېدلای سي لیکن د مسلمانانو اختلاف او بېل والی په هیڅ حالت کي نه سي زغمل کېدلای.

په دوو مغرورو کسانو کي هیڅکله اتفاق نه سي راتلای

زموږ والد ماجد رحمۃ اللہ علیہ به فرمایل چي د دوو مغرورو کسانو ترمنځ هیڅکله اتفاق نه سي راتللای، د اتحاد لپاره دا اړینه ده چي یو نفر د خپلو برېتونو د کښته کولو لپاره تیار سي، که دواړه خپل برېتونه لوړ ساتي نو هیڅکله به اتفاق نه وي.

مه خپل مسلک پرېږدئ او مه د بل په مسلک کار لرئ

څه کول په کار دي؟ د حکیم الامت حضرت تهانوي رحمۃ اللہ علیہ ملفوظ چي ډېر لنډ دی د یادلو وړ دی هغه دا چي: " **مه خپل مسلک پرېږدئ او مه د بل په مسلک کار لرئ**". څوک چي د هري مسئلې پیروي کوي هغه دي په خپل مسلک عمل وکړي لیکن په نورو دي غرض نه لري، دا هم هغه خبره ده چي په مجتهد فیه مسائلو کي هیڅ جهت بد نه وي او کله چي بد نه دی نو پر دې اعتراض کول هم جائز نه دی.[7]

۷: د تقلید یا د مذهب د اثبات په اړه د نړۍ د مشهور او منلي عالم شیخ الاسلام علامه مفتي محمد تقي عثماني حفظه الله کتاب "د تقلید شرعي حیثیت" او همدارنګه د نړۍ د مشهوري اسلامي مدرسي دیوبند د محقق عالم علامه سرفراز خان صفدر رحمۃ اللہ علیہ کتاب "الکلام المفید في اثبات التقلید" یقیناً پر دې موضوع بهترینې علمي منابع دي.

خلاصه

نو زما د خبرو خلاصه دا راووتل چي اختلاف (په خپل حد کي) جائز دی او د اختلاف کونکو د نظریاتو احترام هم لازمي دی لیکن افتراق (بېل والی، بې اتفاقی، جنګ او شخړه) په هیڅ حال کي هم نه دی جائز، موږ د همدې افتراق له سببه تباه کېدونکي یو. د علامه اقبال ځني شعرونه ددې معاملې ډېره ښه ترجماني کوي، هغوی وویل چي:

منفعت ایک ہے اس قوم کی نقصان بھی ایک
ایک ہے سب کا نبی، دین بھی ایمان بھی ایک
حـــــرم پاک بھی ، اللہ بھی ، قـران بھی ایک
کیا بڑی بات تھی ہوتی جو مسلمان بھی ایک
فـرقہ بندی ہے کہیے، اور کـہے ذاتـیے ہیں
کـیا زمـانے میے پنپنـــے کـی یہـی باتیں ہیں

نن کفر زموږ د ختمولو لپاره سره یو سوي دي او موږ په خپل منځ کي یو د بل سره جنګونه او شخړي کوو! ضرورت ددې خبري دی چي هر یو په خپل مسلک عمل وکړي او د وروڼو په ډول یو ځای سره واوسېږي او سره یو سي د کفر مقابله وکړي، الله تعالی دي موږ ته ددې توفیق رانصیب کړي، آمین.

وَآخِرُ دَعْوَانا أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِين

د ټولنې کولو ځای
احمد شاهي کتاب ځای کابل دروازه کندهار افغانستان